## د کارمونډنې داعلانونو دتنظيم دلوی مدیریت لاربښود.

دغه خبرتیا له مطالعې، لاسلیک او دغوښتن لیک دفورمې له ضمیمه کولو وروسته تسلیم کړې.
داطلاعاتواوفرهنګ وزارت هغوغوښتونکو ته چې له قرار دادی بستونو ګمارنې لپاره په رقابتي آزموینه کې ګډون کوي خبرورکوي چې لاندې مراتب په جدي توګه رعایت کړي.

۱) محترم غوښتونکي دې دمعیاري غوښتن لیک فورم له دغه لاربښود سره سم د وزارت له سایت او همدا رنګه د اکبر اوجابس له سایتونو څخه ترلاسه کړي اودبشپړمسوولیت په درک سره دې په دقیقه اوسمه توګه ډک کړي او داعلان دمودې له پای ته رسیدو مخکې دې دلوړو زده کړو وزارت له تایید شویو تحصیلي سندونو سره یوځای ، که چېرې رسمي دنده لرئ یوه پاڼه خلص سوانح چې دصادرید
و له نیټې څخه یې شپږ میاشتې تیرې شوي نه وي ، که چیرې خصوصي دندې لرئ دکار قراردادخط ، تجربه کاری تصدیق چې د آیسا او اقتصاد ادارو سره ثبت او راجستر شوي وي دمالیې ورکوونې له فورم سره یوځای اړوندو دفتر ته وسپارئ.
۲ (که چیرې دملکي خدمتونو دبستونو غوښتونکي دټاکنودپروسې په بهیر کې له واسطې څخه په ګټې اخستنې او دنفوذ په عملي کولو سره ددوی په ټاکنې اقدام وکړي دهماغه بست په رقابتي پروسه کې له ګډون څخه بې برخې کیږي.
۳ (په هغه صورت کې چې ناسم او دواقعیت پرخلاف سندونه او معلومات په فورم کې درج شوي وی، غوښتونکی دسیالی له پروسې څخه ایستل کیږي.
٤ (محترم غوښتونکی دې دخپل تصدیق او یادتحصیلي سندونو کاپي چې دلوړو زده کړو وزارت تاییدي ولري، دغوښتن لیک له فورم سره ضمیمه کړي . هیڅ راز تصدیق ، تحصیلي ستاین لیک او دپوهنتونونو او دلوړو زده کړو دموسسو سرتفکیت تر هغه وخته پورې چې دلوړو زد ه کړو دمحترم وزارت له خوا تایید شوي نه وي ، اعتبار نه لري.
٥ (هغه تحصیلي سندونه چې له ,۱۳۷۱تر ۱۳۸۱کال پورې صادر شوي وي دلوړو زده کړو وزارت د ۱۳۸۵کال دثور دمیاشتې د ۲٤ نیټې د۱۸۸ګڼه لیک پربنسټ په دغه وزارت کې ارزوني غوښتنه کوي.
٦ (له یولې څخه بهر تحصیلي سندونه له یولې څخه بهر تحصیلي سندونه دارزونې او دلوړو زده کړو وزارت دتایید دبشپړولو د سندونو دشتون په ترڅ کې، د اکاډمیکو چارو د انسجام ریاست مکتوب هم ضروری دی.
۷ (له یولې څخه بهر دفارغانو لنډ مهال تحصیلي سندونه چې دلوړو زده کړو وزارت له لوري تایید شوي وي ، داعتبار وړ دي خو غوښتونکی مکلف دی چې دخپلو تحصیلي سندونو دتصدیق بهیر دواکمنو مراجعو په واسطه دمرکې دبهیر له پیل کیدو څخه مخکې بشپړ کړي.
۸ (څرنګه چې دخصوصي لوړو زده کړو دموسسو محترم ریاست یواځې دتحصیلي موسسې له ثبت او راجستر کیدو څخه تصدیقوي ، له دې امله ددې غوښتنه کیږي ترڅو هغه محترم غوښتونکي چې له پوهنتونونو اویا دخصوصي لوړو زده کړو له موسسو څخه فارغ شوي دي دتحصیلي سند کاپي دې دخصوصي لوړو زده کړو موسسو له ریاست څخه دفراغت له مکتوب سره یوځای دغوښتنې له فورم سره ضمیمه کړي.
۹(هغه محترم غوښتونکي چې په رسمي ډول په دولتي ادارو کې دنده ترسره کوي اویا یې پخوا دنده اجراکړې ده یوه پاڼه خلص سوانح چې له دولتي مراجعو څخه دوزارتونو _ دولتي ادارو دلومړي واحدونو په واسطه صادر شوي وي ، له خپل کار له وروستي مرجع څخه دکاري تجربې دسند په توګه دغوښتنې له فورم سره یوځای کړي.
دغه راز هغه خلص سوانح چې دمرکز او ولایتونو له دویمو واحدونو څخه صادر شوي دي دخپل کار له وروستي مرجع څخه دکاري تجربې دسند په توګه دغوښتنې له فورم سره یوځای کړي .دغه راز خلص سوانح چې دمرکز او ولایتونو له دویمو واحدونو څخه صادر شوي وي ، داعتبار وړ نه دي . خوداچې داړونده وزارت یا اداري دلومړی واحد له لوري تایید شوي وي.
۱۰ (هغه محترم غوښتونکي چې په بین المللي معتبرو موسسو کې یې دنده اجرا کړې ده خپل کار ي سندونه اوسوابق دې دهماغه بنسټ دبشري منابعو د څانګې له تایید وروسته دقرارداد له کاپي سره یوځای دغوښتنې له فورم سره ضمیمه کړي.
۱۱ (که چیرې دغوښتونکو تحصیلي سندونه او کاري سوابق مشکوک معلوم شي له اړوندو مراجعو څخه ددقیقو معلوماتو له اخستلو وروسته دې دموضوع د روښانه کیدو لپاره عدلي اوقضایي ارګانونو ته وروپیژندل کیږي
محترم غوښتونکي دې دغوښتنې دفورم دسپارلو په وخت کې پورته ذکر شوي موارد په جدي توګه په پام کې ونیسي ، دهغو سندونه کاپي چې وړاندې کوي بې روښانه او دلوستلو وړ وي.
له دې پرته ناقص ارزیابي کیږي او دغوښتنې دفورم له سپارلو وروسته هیڅ راز جلا سندونه نه منل کیږي.
په شرایطو برابر مینه وال کولای شي لاربښود ، ددندو لایحه او دغوښتنې فورم او چک لست د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له[WWW.moic.gov.af](http://WWW.moic.gov.af) سایت او له [WWW.Jobs.af](http://WWW.Jobs.af) / [WWW.Acbar.org.af](http://WWW.Acbar.org.af) سایتونو څخه ترلاسه کړي.
دبشپړ مسوولیت په درک سره دې په دقیقه توګه له قلم خوردګۍ پرته ډک او داعلان دمودې له بشپړیدو اوپای ته رسید و مخکې دلوړو زده کړو وزارت له لوري له تایید شویو تحصیلي سندونو سره یوځای ، که چیرې رسمي دنده لرئ یوه پاڼه خلص سوانح چې شپږ میاشتې تیرې شوي نه وي که چیرې خصوصي دنده لرئ دکار قرارداد خط چې دایسا داداري او داقتصاد له لوري ثبت اوراجستر ولري د بهرنیو چارو وزارت دروازې ته مخامخ داطلاعاتواوفرهنګ وزارت دمرکز په اول منزل کې د کارکوونکو چارو ریاست د ګماني آمریت د کارمونډنو اعلانونو دتنظیم لوی مدیریت ته په فزیکي ډول وسپاري . او دزیاتو معلوماتو دغوښتنې په صورت کې دې د ګمارنې آمریت له ۰۲۰۲۵۲٦۵۲۹ ګڼه تیلفون سره اړیکه ونیسی او مطلب حل کړئ.